Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ۲
نېټه: ۱۴۰۳/۹/۱



د افغانســتان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت نوښت دی چــې د افغانســتان تــر ټولو مهم او وروســتي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېيو ژبو (پښــتو، دري، انګليــسي) چمتــو او خپريــږي، تاســو کولی شــئ د افغانســتان د وروســتيو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د هند او بنګله دېش له يو شمېر علماوو سره د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال ليدنه

۲- د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال له لوري د بخت کمپل جوړولو فابريکې پرانيسته

۳- له روسي پانګوالو سره د رياست الوزراء د اقتصادي مرستيال ليدنه

٤- ملي تدارکاتو کمېسيون کې د شاوخوا پينځو ميليارد افغانيو په ارزښت پروژو منظورېدل

۵- د وړو تمويلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې

# د هند او بنګله دېش له یو شمېر علماوو سره
## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال لیدنه



د روان لمریز کال د عقرب په ۲۹ مه نېټه له هند او بنګله دېش څخه یو شمېر راغلو علماوو د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر سره په مرمرینه ماڼۍ کې ولیدل.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په لیدنه کې خوښي څرګنده کړه چې لا هم د اسلام بچي د اسلام د دین د خپرېدو له پاره هلي ځلي کوي. محترم ملا صاحب وویل، اسلامي امارت هم د افغانستان له صالح او عالم قشر څخه جوړ دی او له پیله یې هڅه کړې چې د اسلام دین له خرافاتو پرته خلکو ته ورسوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې په افغانستان کې یې د اسلام د سپېڅلي دین د خپرېدو له پاره مدارس تقویه کړي، نوي علمی اداري جوړې شوي او تعلیمي نصاب کې یې ګټور شیان ځای پر ځای کړي دي. اسلامي امارت په افغانستان کې د دین په تطبیق کې تر خپله وسه هڅې کوي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په افغانستان کې د اقتصادي چارو په اړه راغلو علماوو ته وویل چې په افغانستان کې لویې اساسي پروژې پلي شوي دي. له ګاونډیو او نورو هېوادونو سره د اړیکو په اړه یې وویل چې د افغانستان سوداګري ورسره زیاته شوې او صنعتي فعالیتونه په افغانستان کې د پخوا په پرتله زیات شوي دي.

محترم ملا صاحب په خپلو خبرو کې د افغانستان د ټکني اقتصاد لاملونه پر افغانستان د نورو هېوادونو بندیزونه، د نړۍ نه تعامل او د افغانستان د شتمنیو کنګل کول یاد کړل.

اسلامي امارت، چې په رأس کې یې د ټولنې عالم قشر قرار لري، په سیاسي، اقتصادي او فرهنګي برخه کې له نورې نړۍ سره اړیکې ټینګوي، چې د فرهنګي هڅو بېلګې یې له مسلمانو هېوادونو څخه د بېلابېلو علماوو د پلاوېو راتګ او قدرداني کول دي.

## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال له لوري
# د بخت کمپل جوړولو فابریکې پرانیسته



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د عقرب په ۲۷ مه په کابل کې د بخت کمپل جوړولو فابریکه پرانیسته. د پرانیستې مراسمو کې د صنعت او سوداګرۍ سرپرست وزیر محترم نورالدین عزیزي او د خصوصي سکټور استازو هم ګډون کړی وو.

محترم ملا صاحب ګډونوالو ته له ښه راغلاست وروسته وویل، خوښ یم چې هېواد کې د کمپلو د تولید د یوې داسې مهمې فابریکې د پرانیستې مراسمو کې ګډون کوم چې په بهرنیو تولیداتو زموږ تکیه راکموي او د داخلي صنعت په پیاوړتیا کې مرسته کوي.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو افغانانو ته د دغې فابریکې د فعالیت د پیل مبارکي وویله او د فابریکې له مسوولینو څخه یې مننه وکړه چې په خپل هېواد کې پانګونه کوي. محترم ملا صاحب د فابریکې له مسوولینو وغوښتل چې هېوادوالو ته د منل

شـویو معیارونو په پام کـې نیولو سره باکفیته تولیدات وړانـدې کړي، تر څو د کورنۍ تقاضا پوره کولـو سربېـره بهرنیو هېوادونـو ته هم صادرات ولري.

محترم ملا صاحب وویل، مهمه خبره دا ده چې یاده فابریکه به د هېواد له خامو موادو (وړیو او پنبې) څخه استفاده کوي چې له امله به يې د هېواد د مالدارۍ او کرنې سـکتور پیاوړی شي او ورسره به کاري فرصتونه هم زیات شي.

د بخت کمپل جوړولو فابریکه د څرخي پله په صنعتي پـارک کې موقعیت لري، چې فعالیت سره به یې د افغانستان ملي اقتصاد پیاوړی او د داخـلي تولیداتو زیاتوالي کـې به هم رول ولوبوي.

د فابریکې مسوولینو په یاده فابریکه کې ۹۳۰ میلیونه افغانۍ پانګونه کړې، چې له امله به یې نور پانګوال هم په افغانسـتان کې پانګونې ته وهڅېږي. دغه فابریکه اوس مهال په یوه ورځ کې زر واحده کمپلې تولیدوي، چې وروسته به دغه شمېر پينځه زرو ته ورسېږي. بله د پام وړ خبـره دا ده چې یاده فابریکه د خپل هېواد له وړیو او پنبې څخه استفاده کوي چې دغه کار به د هېواد مالدار او بزګر وګړي خپلې مالدارۍ او بزګرۍ ته لا تشویق کړي او د افغانستان ملي اقتصاد غوړېدو کې به مرسـته وکړي. په هېواد کې له لسیزو جګړو وروسـته اوس پانګونې ته ښــه فرصت برابر شوی دی او د اسلامي امارت ټوله هڅه دا ده چــې پانګوالو ته ډاډمنه فضاء رامنځته کړي.

## له روسي پانګوالو سره د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال لیدنه



د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې له روسـيي څخه راغلو یو شـمېر پانګوالو سره لیدلي.

دغه لیدنه چــې د روان لمریز کال د عقرب په ۲۷ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه، پر مهـال یې د کور او بـار جوړولـو، صنعت او سوداګرۍ، ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارتونو سرپرست وزیران او یو شمېر نورو امارتي مســوولینو هم حضور درلود. پــه لیدنه کې په افغانســتان کې د روسي پانګوالــو له لوري د افغانســتان پــه زېربنا، صنعت، ســوداګرۍ، ټرانسپورټ، کرنې، روغتیا او نورو سکټورونو کې پر پانګونې خبرې وشوې.

محــترم ملا صاحــب وویل، له جګــړو راوتلي افغانستان کې اوس مهال په بېلابېلو برخو کې د پانګونې له پاره زمینــه برابره ده او کورني او بهرني پانګوال کولی شي چې په افغانستان کې په مختلفو سکټورونو کې پانګونه وکړي.

افغانستان د طبیعي سرچینو له پلوه په سیمه کې له بډایــه هېوادونو څخه دی او په بېلابېلو برخــو کې د پانګونــې فرصتونه لــري چې د ســیمې او نــړۍ پانګوال کولــی شي په دغه سکټورونو کې پانګونه وکړي.

په غونــډه کــې روسي پانګوالو پــه بېلابېلو سکټورونو کې پانګونې ته لېوالتیا څرګنده کړه او ویې ویل چې دوی د صنعت، ترانســپورټ، رېل پټلۍ، روغتیا او کرنې سکټور کې پانګونې ته چمتو دي. هغوی وویل چې د پانګونې برخه کې به له افغان چارواکو سره خپلې تجربې هم شریکې کړي.

واک ته له رسـېدو وروسـته اسـلامي امارت اقتصاد محــوره پالیسي غوره کــړې او د دې پالیســی پر بنسـټ یې تل کورني او بهرني پانګوال افغانســتان کــې پانګونې ته هڅولي دي. اســلامی امارت په افغانستان کې له ټولو پانګوالو سره همکارۍ ته چمتو دی.

## ملي تدارکاتو کمېسیون کې
# د شاوخوا پنځو میلیارد افغانیو په ارزښت
## پروژو منظورېدل



د ریاست الوزراء اقتصادی مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د ملي تدارکاتو کمېسیون په نوبتي غونډه کې ٤٧ پروژې د منظورۍ له پاره وړاندې شوې. له ٤٧ پروژو څخه د ٢٧ پروژو قراردادونه منظور، د اتو تعدیل، د څلورو لغوه او د اتو پروژو د قراردادونو په اړه ټاکل شویو کمېټو ته دنده وسپارل شوه چې له ګټونکو شرکتونو سره بیا مذاکرات وکړي او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون ته وړاندې کړي. په ٢٧ منظور شویو او تعدیل شویو پروژو کې د غزني د سلطان بند بیا رغونه، په کابل ښار کې د تهیه مسکن دوهم نمبر بلاکونه، د لوګر او کندهار د استیناف محکمو تعمیرونه، د کابل ښار یو شمېر سړکونه او یو شمېر نورې پروژې شاملې دي. دغه غونډه د روان لمریز کال د عقرب په ٢٦ مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه. د ملي تدارکاتو کمېسیون د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخوندزاده د ٢٠٢ ګڼې فرمان پر بنسټ جوړ شوی چې مشري یې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند کوي. د دغه کمېسیون هدف د شفافیت تضمین، د اغېزناکو خدماتو وړاندې کول، تدارکاتي ستونزو ته حل لارې ایستل او د تدارکاتي فعالیتونو همغږي کول دي. یاد کمېسیون له پیله تر اوسه د ٨٥ میلیارد افغانیو په ارزښت ٣١٧ بېلابېلې پروژې منظور کړې دي.

# د وړو تمویلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې




د روان ١٤٠٣ لمریز کال د عقرب په ٢٣ مه نېټه په کابل کې د افغانستان بانک له لوري «د وړو تمویلونو ملي کنفرانس: فرصتونه او ننګونې» تر سرلیک لاندې په هېواد کې د پانګونې د تشویق او خلکو ته د کارونو د ایجاد په موخه ملي کنفرانس جوړ شوی و.

دغه کنفرانس کې د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند سربېره د کابینې یو شمېر محترمو غړو، د ملګرو ملتونو، اروپايي ټولنې او نړیوال بانک استازو، د بهرنیو هېوادونو سفیرانو، د نړیوالو او کورنیو مؤسسو مسوولینو او یو شمېر ملي پانګوالو او سوداګرو ګډون کړی وو.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال ګډونوالو ته وویل، د وړو تمویلونو له سکټور څخه عام او بې وزله افغانان، بزګران او د کوچنیو کاروبارونو څښتنان ګټه اخلي. هغه زیاته کړه چې د دغه خلکو لاسنیوی د اسلامي امارت او نړیوالې ټولنې ګډ هدف دی.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وویل چې اسلامي امارت په افغانستان کې د بې وزلۍ او بې کارۍ د کچې کمول خپل مسوولیت او

لومړیتوب ګڼي، نـــو ځکه يې د وړو کاروبارونو د ملاتړ او د نویو کاري فرصتونو د ايجاد په موخه د افغانســـتان بانک د وړو تمويلونو د مؤسســـو د څارنې او تنظيم له پاره مقرره جوړه کړه. دا هغه کار و چې په تېرو شــلو کلونو کـــې نه و، ترسره شوی.

د محترم ملا صاحب په وينا، په افغانستان کې د سرتاسري امنيت او شـــفافيت په رامنځته کېدو سره اوس د وړو تمويلونو د ســـکټور له لارې له عامو خلکو سره مرســـتې او هغوی ته د کار کولو ښــه زمينه برابره شـــوې ده. د رياســـت الوزراء اقتصادي مرســـتيال زیاته کړه، ياد سکټور به په افغانســـتان کې د بـــې وزلی، بـــې کارۍ او د ټولنيزو ستونزو کچه راکمه کړي چې له امله به يـــې اقتصادي وده رامنځتـــه او ملي اقتصاد به پياوړی شي.

محترم ملا صاحب په نړيوالې ټولنې، تمويلوونکو ادارو او پر شـــتمنو افغانانو غـــږ وکړ چې د وړو تمويلونو د ملاتړ په برخه کې د اسلامي امارت تر څنګ ودرېږي. عام خلک، بزګران او د کوچنيو کاروبارونو لرونکي کولی شي چې د وړو تمويلونو مؤسسې له جوړې شوې مقررې څخه ګټه پورته کړي. د وړو مالي تمويلونو مؤسســـو د تنظيم او څارنې مقرره د افغانســـتان بانک له لوري په اوو څپرکيو او درې پنځوس مادو کې ترتيب او تاييد شـــوې ده. دغه مقرره يوه عمومي او درې فرعي موخې لري چـــې عمومي موخه يې د خلکو، په ځانګړې توګه د بې وزلو، د اقتصادي هوساينې پـــه موخه د وړو مالي تمويلونـــو برخې له پاره د ځواب ويونکې، شفافه او پايداره چاپېرل رامنځته کول، ســـاتل او څارل دي. په فرعي موخو کې لومړۍ موخه د مالي تمويلونو د سيســـتماتيک پرمختګ او پايدارۍ ودې له پاره د اړتيا وړ اداري جوړښـــت رامنځته کول، ســـاتل او څارل دي. دويمه فرعي موخه د وړو مالي تمويلونو مؤسسو او نـــورو اړونده ادارو ته د جواز صادرول، تمديد، ځنډ او لغوه کولو له پاره د شرايطو ټاکل دي.

درېيمه فرعي موخه د عمومي موخې د ترلاسه کولو له پاره د وړو مالي تمويلونو مؤسســـې او د وړو مالي تمويلونو ســـکټور تسهيلوونکو ادارو د کړنو او اجراأتو تنظيمول او څارل دي.

د دغې مقـــررې په درېيمه ماده کې د مقررې د پلي کېدو ســـاحه څرګنده شوې ده. د درېيمې مادې په دويم بند کـــې راغلي چې دا مقرره په هغو ســـوداګريزو بانکونو او د بهرنيو بانکونو په نمايندګيو باندې، چې غواړي د ځانګړو دريځو له لارې د وړو مـــالي تمويلونو خدمتونه وړاندې کړي، د پلي کېدو وړ ده.

په ياده مقرره کې د وړو مالي تمويلونو مؤسســـو ايکو سيستم، د جواز ورکولو شرطونو، تشکيلاتي جوړښـــت، د تمويلونو او معاملو په شرايطو او يو شـــمېر نورو موضوعاتو په اړه لارښـــوونې راغلي دي.

ياده مقرره په هېواد کې د بې وزلۍ او بې کارۍ د کچـــې کمولو له پاره د اســـلامي امارت يو له مهمو ګامونو څخه ګڼل کېږي.

